# The virtues of Rhetorical device in the poetry of Humayun Hamdard

Farid Asarjan [1] Nagina Bibi [2]

## ABSTRACT

*A rhetorical device (Figures of speech) is a linguistic tool that evokes a specific kind of understanding in a reader or listener. Generally, rhetorical devices are used to make arguments or bolster existing arguments. The purpose of a rhetorical device is to influence how an audience understands and engages with the material. It could be to connect with the reader emotionally and push them to empathize with a particular position, or to connect with their logical mind and demonstrate why a specific position is well crafted.*

**Key words:** Simile, Metaphor, Personification, Apostrophe, Metonymy, Pun

## د همایون همدرد په شاعرۍ کښې د بدیع محاسن

په دې خبره کښې هېڅ شک نشته چې شاعرانو به د خپل ذوق او استعداد په زور الفاظ اوکلیمې په داسې پراثره انداز کښې پېللې چې په لاشعوري توګه به کلام کښې بدیع ته دخل حاصل شو، خو دې فن ته چې په باقاعده توګه رواج ورکړے شوے دے او د یو ځانله علم په نظر ورته کتلے شوي دي نو دا د درېمې صدۍ هجرۍ په دوېمه نیمایۍ د عبدالله بن معتز عباسي کارنامه وه- د دغه دور نه را په دېخوا دې علم د ادب په چوکاټ لوئے مقام موندلے دے. علم بدیع په دوو برخو منقسم دے. یو ته صنایع لفظي وائي او بل ته صنائع معنوي . صنائع لفظي کښې د کلام د لفظي ښائست جاج اخستے شي او معنوي کښې د کلام د معنوي حسن او اثر پذیرۍ پلټنه کېږي. صنائع بدائع یا لفظي او معنوي صنعتونه د کلاسیکي شاعرۍ یوه زبردسته خوبي ده. هم دغه وجه

---

[1] Research Assistant, Abdul Wali Khan University Mardan.

[2] Lecturer, Pashto Department, Abdul Wali Khan University Mardan.

ده چې د هر قادرالکلام شاعر په کلام کښې دغه خوبۍ لیدلے شي او یؤ شمېر شاعرانو ددې خوبیانو نه په خلاص مټ ګټه پورته کړې ده.

علم بدیع د ادب اهمه برخه ده. په اصطلاح کښې بدیع داسې علم ته وائي چې د هغې په ذریعه د کلام فني محاسن په ګوته کېږي. **ددې علمپهٔ حقله پروفېسر داور خان داود د خپلې رائے اظهار په دې ټکو کښې کړې دې.**

" علم بلاغت یو ډېر وسیع علم دے چې د نړۍ مختلف قامونه ئې په خپل شعر و ادب کښې د فصاحت او بلاغت پېدا کولو په غرض استعمالول خپل فن او هنر ګڼي. دا علم مونږ لکه د نوروعلومو دعربۍ او فارسۍ ادبیاتو نه تر لاسه کړے دے ځکه ئې د اکثرومصطلحاتو مأخذ عربي ژبه ده او د دې علم دوه اهمې برخې دي-اوله برخه ئې 'علمِ بیان' سره تعلق لري په دې کښې"تشبیه"، "استعاره"، "کنایه" او "مجازِ مرسل" شامل دي، بله برخه ئې د 'علمِ بدیع' په حقله ده چې ګڼو صوري او معنوي صنعتونو سره تعلق لري "

1

دریاب لغت د لفظ بدیع په حقله لیکي

" بدیع : عجیبه، ناویاته، انداز.یو علم نومچې‌پکښې دکلام معنوي او لفظي خوبۍ بیان شوې وي"

2

د همایون همدرد شعري پنګه د لفظي اؤ معنوي صنایعو یوه ښائسته اؤ خوشبوداره ګلدسته ده-په دې حواله فرهاد محمد غالب ترین د همدرد د کلام په بابله دخپلې رائے اظهار په لاندېني ټکو کښې کړے دے -

" د همایون همدرد په کلام کښې چې کوم څیز د یؤ لوستونکي اورېدونکي پام لرنه راکاږي هغه دبلاغت خوبي ده" 3

اګرچې فني محاسن د شاعرۍ په ډګر کښې دقيق فن ګڼلے شي خو د همايون همدرد کمال دا دے چې هغه دې دقيق فن له هم د خپل فطري صلاحيت په توان د برجستګۍ ، بې ساختګۍ او سادګۍ داسې خوند ورکړے دے چې هر کس ترې د خپل خپل مزاج او پوهې مواقف حظ اخلي-د همدرد د دې ځانګړتيا په حقله نورالبشر نويد د خپلې رائے اظهار په دې ټکو کښې کړے دے -

”...هغه د لفظونو داسې جادوګر ،قلمکاردے
چې د شاعرۍ په ژبه پرې لوبې کوي “ [4]

په دې لړکښې د همدرد دا اشعار ملاحظه کړئ

مخ دې لکه نمر دے ته مـــــنې که نه
ما ترې نه انکار په مخه کړې
دے ( چينه ص ۲۷ )

کمځې دې مه خوروه زړه د لېونو خوروي
ګــــنې نو ګـــوره هــــنګامـــه د پسرلو خوروي
( چينه ص ۲۳ )

دلته مونږ اول د همايون همدرد د کلام نه هغه مثالونه راوړو چې د لفظي صنعتونو سره اړه لري-

## لفظي صنعتونه

### صنعت تجنيس تام

په شعر يا کلام کښې داسې لفظونه راوړل چې په تلفظ، وزن، ترتيب او شکل کښې يو شان وي خو معنوي لحاظ سره جداجداوي، تجنيس تام بللے شي-

په دې لړ کښې د همايون همدرد لاندې اشعار ملاحظه کړئ

بيا د چـــــا د تورو سترګو تور شومه
خدايا په سکنې سحر کښې ګل شومه
( سپيلنې ص ۳۹ )

ورک يــــــمه په تا د ځـــانه ورک نه شې
ورک به شې اشنا زمانه ورک نه شې
( ګلګون ص ۴۲ )

زما د زړه په " جم " کښې جم دے د غم
ستا د کـــــــاکــــلو په تورخم سپرلے دے
( ګلګون ص ۶۴ )

تا چې راته مخ کړو مخامخ ښۀ ده نو پوهه شوم
ما به وې چې څنګه ماسپښين
خوبونه وينې څوک ( سپيلني ص ۴۳ )

## تجنيس مضارع

په شعر کښې داسې دوه لفظونه راؤړل چې د حروفو تعداد ئې برابر وي ــ خو صرف يو حرف په کښې مختلف وي ــ
په دې لړ کښې لاندې اشعار ملاحظه کړئ

اوس مو هره پښه په لاره وچاؤده
ستا په انتظار مو زاره وچاؤده ( ګلګون ص ۲۴ )

سترګې چې ستا مخ ته پورته نيسمه
دا لکه چې زړۀ مې اورته نيسمه ( ګلګون ص ۲۳ )

زړګيه خېر دے کۀ لړ نور بدنام شم
خو چې د مينې پۀ يؤ تور بدنام شم ( سپيلني ص ۲۷ )

په وړومبي شعر کښې " لاره" راوړلے شوے دے اؤپۀ دويم شعر کښې "زاره " چې د تجنيس مضارعشکلے مثال دے .

## صنعت تجنيس مرکب

په کلام کښې دوه لفظونه راوړل چې پۀ حرفونو اؤ ترکيب کښې سره برابر وي، خو يو لفظ مفرد اؤ بل مرکب يعني د دوؤکلمو د ترکيب نه جوړ وي، تجنيس مرکب ورته وائي-پۀ دې لړ کښې لاندې شعر ملاحظه کړئ

اوس زندګې د سرېتوب ګرانه شوه
اوس پۀ دې ښار سرې خواړۀ خورېږي ( سپيلني ص ۵۰ )

وړومبی مصرعه کښې سرې+توب مفرد دےاو دوېمه مصرعه کښې مرکب دے.

## صنعت تضاد

په کلام يا شعر کښې د يو بل مخالف څيزونو يا الفاظ راؤړلو ته صنعت تضاد وائي ــ پۀ نورو الفاظو کښې شعر کښې داسې ټکي

راؤړل چې د معنې پهٔ اعتبار یؤ بل سره توپیر لري- صنعت تضاد ته صنعت طباق هم وائي-
پهٔ دې لړ کښې لاندې اشعار ملاحظه کړئ

نهٔ دې څهٔ شک د بې لوظی پاتې شو
نهٔ مې گمان د یقین لاره نیسي
( گلگون ص ۶۵ )

ذهن اؤ سوچ اؤ
عقیدې بدلیږي
مخ پهٔ قبله پهٔ نمر خاتهٔ پاسیدهٔ
( گلگون ص ۸۶ )

مونږ نه ئې د ژوند لارې
خطا کړلې
غم د دې دنیا د نن، پرون احساس ( سپیلني ص ۴۶ )

داسې د ژوند حقیقت
هم وگڼه
چې حقیقت د افسانې دروغ دے (
گلگون ص ۹۹)

دا به فطرت
دا به نظام د زمانې بدلوي
دروغ دې چاوې چې لفظونه هم معنې بدلوي ( گلگون ص ۱۰۱ )

صنعت اقتباس
په اشعارو کښې د قرآن و حدیث ځینې الفاظ راوړل صنعت اقتباس بللے شي-
پهٔ دې لړ کښې لاندې شعر ملاحظه کړئ

رقیبه ټیک ده
ستا زما فیصله
راځه چې کښېنو پهٔ کتاب ئې وکړو ( سپیلني ص ۴۵ )

څومره
مقدس د ښکلو فکر دے

فقر دے ، ثواب دے اؤ هم ذکر دے ( سپیلني ص ۶۹ )

ستا د مېني د مسلک
عقیدت مند یم
مسلــــــــــــمــــــــــان
یم لـــــــــــــۀ اسلامه وتے نـۀ شم ( چینه ص ۵۷ )

سیاق الاعداد / سیاقة الاعداد
سیاق الاعداد په شعر یا کلام کښي د عددونو ذکر کولو ته وائي، پۀ دي لړ کښي لاندي شعر ملاحظه کړئ

مونږ دي یوه
ګړی کلونه شمېرو
تاته عــــــــــمرونه د یؤ کال یاري ده ( ګلګون ص ۳۰ )

صنعت ترافق
که په یو شعر کښي دواړه مصرعې خپل ځاي بدل کړي یعني اولنی مصرعه دویمه او دویمهمصرعهاولنی شي او په تسلسل او معنیٰ کښي ئې فرق را نۀ شي نو دا به صنعت ترافق وي۔پۀ دي لړ کښي لاندي شعر ملاحظه کړئ

ستا د مېني لـــه الزامه وتي نۀ شم
ګناهګار یم له انجامه وتي نۀ شم ( چینه ص ۵۷ )

## معنوي صنعتونه :

صنعت لف و نشر
په شعر کښي د یو مناسبت ځیز ذکر کولو نه پس داسي نور ځۀ ځیزونه ذکرکول چېوړومبنیوسره ئې ځۀ تعلق اومناسبوي صنعت لف ونشربللےشي. دشعرهغه برخه چي وړومبي ځیزونه پکښي ذکر شوي وي "لف" اؤ دویمه برخه چي د وړومبیو ځیزونومتعلقات پکښي راوړلے شوي وي ” نشر " بللي شي۔

صنعت لف و نشر مرتب / صنعت لف و نشر غیر مرتب

که دغه متعلقات په ترتیب سره راوړلے شي نو ” صنعت لف و نشر مرتب " ورته وائي. او که بې ترتیبه یعني وړاندي وروستو

Pukhtunkhwa Journal

راوړلے شي نو" صنعت لف و نشر غېر مرتب " ورته وائي-پۀ دې لړ کښې لاندې اشعار ملاحظه کړئ

زلفې دې توري مچې
مخ دې د اور بخري
هم دې ماښام کښې لشي
هم دې سحر کښې غني ( سپيلني ص ۷۵ )

ما اؤ رقيب خو به څوک نۀ يادوي
د خېر اؤ شر خبري کېږي کۀ نه ( گلګون ص ۱۷ )

ؤخاندي موسکے شي خو مخ واړوي
يؤ کښې دې عطا ده بل کښې جبر دے ( سپيلني ص ۶۹ )

ژوند دے د تيارو مزل، تګ دے د ازغو پۀ لار
زلفې راته ووائي ، بانه دې راته ووائي ( سپيلني ص ۶۸ )

د صنعت لف و نشر غېر مرتب مثال

مړيم زخمي يمه پۀ دواړو باندې
څۀ دې د ستركو څۀ د خلې خواږۀ دي ( سپيلني ص ۶۷ )

صنعت مراعات النظير
پۀ كلام كښې د يو څيز ذكر كول او بيا ورسره د هغې څيز پۀ مناسبت د نورو څيزونو ذكر كول صنعت مراعات النظير بللےشي. دې تۀ تناسب، توفيق، تلفين او ايتلاف هم وائي-پۀ دې لړ كښې لاندې اشعار ملاحظه كړئ

لا خو د پښتون د خوان خبري دي
چا وي چې حجره كلي كښې نشته دے ( سپيلني ص ۳۰ )

مخ دې كۀ دې ستركې كۀ دې زلفې دي

گوره چې دې واړه ټبر جنګ کوي
(سپیلني ص ۱۰)

## صنعت ارسال المثل

په کلام یا شعر کښې متل یا نقل په خاصه طریقه راوړلو ته صنعت ارسال المثل وائي. دې صنعت ته ابداد المثل هم وائي-پهٔ دې لړ کښې لاندې شعر ملاحظه کړئ

داخو ستا د زلفو کرامت دے بس
څوک به ګني نمر په بله واړوي ( چینه ص ۶۰ )

څوک پهٔ مره ګېډه لیوني نهٔ دي
څوک چې شي پهٔ خېټه نهر جنګ کوي ( چینه ص ۶۵ )

شکاریږي چې نن بیا مې هغه شکلے میلمه کېږي
همدرده چې نعرې وهي کارغهٔ پهٔ دیوالونو ( چینه ص ۶۶)

هغه ما پهٔ کتو ولې ، هغه سیوري نه مې تښتي
چې مې خان ترې نه لوګے دے، چې مې زړهٔ ترې نه خېرات دے
( سپیلني ص ۶۶ )

## صنعت استدلال

په شعر یا کلام کښې خپله دعوېه دلیلونو سره وړاندې کولو ته صنعت استدلال وائي-پهٔ دې لړ کښې لاندې شعر ملاحظه کړئ

څنګه پهٔ قبله خو غلط نهٔ یمه
هره ګوته ستاسو کور ته نیسمه ( ګلګون ص ۲۳ )

ستا مېږے مېږے نظر رابانـدې پریوت
څهٔ پرکاله شومه یاره څنګه دد شوم ( سپیلني ص ۲۸ )

که دې مخ په زلفو پټ وي باک ئې نشته

د حیات اوبهٔ هم پټې په تورتم
دي

## صنعت جمع

پـه شعر یـا کـلام کښې څو څیزونه په توصیفي لحاظ سره راجمع کول یعني ډیر څیزونه د یو حکم لاندې راوستل صنعت جمع بللے شي- پهٔ دې لړ کښې لاندې شعر ملاحظه کړئ

زلفې دې توري مچې ، مخ
دي د اور بخري
هم دے ماښام کښې لشي هم دے سحر کښې غني (
سپیلني ص ۷۵ )

## صنعت تلمیح

پـه شعر یـا کلام کښې یوې تاریخي یا مذهبي واقعي یـا قیصې ته اشاره کول صنعت تلمیح بللے شي- پهٔ دې لړ کښې لاندې اشعار ملاحظه کړئ

څوک به سیاه فامه سیاه بخت ګڼي
خدایا چې بلال ئې مخکښې اودرېږي )
سپیلني ص ۶۱ )

اوس هم شته شیرینه خو بس شرط دے دا
بیا چې د فرهاد غوندې سر مات کړي څوک )
سپیلني ص ۷۴ )

غر د ارمانونو ماتوومه زهٔ
یهٔ شیریني وګوره فرهاد شومه )
سپیلني ص ۳۱ )

غم دې چنګېزي لښکرې خوئې کوي
زړونو کښې سنګر پهٔ بله
واړوي ( چینه ص ۶۰ )

چرته مو خلیل زړونه بائېللي دي
چرته انګارونو ته ګوزار نهٔ
یو (سپیلني ص ۲۳)

## صنعت حُسن مطلع

حسن مطلع دې ته وائي چې شاعر د خپل کلام وړو مبے شعر په داسې خوږو، خوند ناکو او زړهٔ راښکونکو الفاظو سره شروع کړي چې

ویونکے یا لوستونکے دې ته مجبوره کړي چې پوره غزل یا نظم اووائي یا ئې واوري-پهٔ دې لړ کښې لاندې شعر ملاحظه کړئ

داسې دې بانهٔ پهٔ زړهٔ کښې رؤ کوي
عــن لکــه لــؤګرې غرهٔ کښې رؤ کوي )
ګلګون ص ۵۸ (

## صنعت حُسن مقطع

د غزل یا نظم اخري شعر چې بغېر لهٔ کوم شرط او نیمګړتیا سره پهٔ مناسب ډول داسېقطع شي چې د لوستونکي یا اورېدونکي تنده پرې ماته شي، حُسن مقطع بللے شي-پهٔ دې لړ کښې دا اشعار ملاحظه کړئ

همدرده ژوند مې غزل غزل دے
پهٔ شاعــری مــې خــوره سندره )
ګلګون ص ۱۶ (

هــغــه غــلــچکے جادوګرې سترګې
همدرده! ستا نه زړهٔ پهٔ ځائې یوسي )
سپیلني ص ۷۲ (

## صنعت تجاهل عارفانه

پهٔ شعر یا کلام کښې د خوند پېدا کولو دپاره شاعر کله نه کله یوه معلومه خبره پهٔ داسېطریقهبیان کړي لکه چې هغه ترې ناخبره وي ــ پهٔ دې لړ کښې لاندې اشعار ملاحظه کړئ

ستا د زلفو سیوري کښې ورک نهٔ شومه
ښه ده چــې دهــوکــه پهٔ ماسختن نهٔ
شوم ) سپیلني ص ۸۰ (

څهٔ له پرې نامه ستا د رخسار کوم
مــخــو پهٔ لــمــبو لاســونه
ونیوهٔ ) سپیلني ص ۸۰ (

## صنعت تقابل

پهٔ شعر کښې د مقابلې معنې راؤړل لکه افلاس او غنا ــ پهٔ دې لړ کښې لاندې شعر ملاحظه کړئ

څــوک به سیاه فــامه ، سیاه بخت ګڼي

خدايا چې بلال ئې مخکښې اودرېږي ( سپيلني ص ۶۱ )

حوالي

[1] داود، داور خان ، سريزه ، مثالونه مشالونه ، خېبر پښتونخوا، محکمه ثقافت ، اپريل ،2013

[2] مومند، قلندر، صحرائي، فريد، درياب، اميد پرنټرز دربار مارکيټ لاهور، ١٩٩٤ء/ ١٤١٥هجري مخ ١٣١

[3] همايون همدرد , ګلګون , پښتو ادبي ټولنه خيشکي , بار اول , فروري 1994, ص 12

[4] همايون همدرد ، سپيلني ، نوښار ، پښتو ادبي ټولنه خيشکي ، بار اول ، جون 1990 ص8